IMMIGRANT LEGAL ADVOCACY PROJECT

# ستاسې د مهاجرت قضيې په اړه د مرستې ترلاسه کولو پر مهال محتاط اوسئ!

په مین (Maine) کې د هغو خلکو په اړه خبر اوسئ چې هڅه کوي د کډوالۍ له قضیو په تړاو د مرستې په پلمه، کډوالو ته چل ورکړي! دا خلک کولای شي ستاسو پیسې غلا کړي او د کډوالۍ قضیې ته مو زیان ورسوي.

**ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپلې کډوالۍ په قضیه کې د باور وړ کس سره کار کوئ. په قانوني توګه د کډوالۍ خدمتونو ریښتیني چمتو کوونکي به هیڅ کله دا کارونه ترسره نه کړي:**

- یوازې ستاسو د قضیې اړوند د پوست له لارې د لیکونو د ترلاسه کولو په بدل کې فیس اخلي
- د کډوالۍ د خالي فورمونو د کاپي (نقلونو) په بدل کې ستاسو څخه فیس اخلي
- د کډوالۍ په فورمونو کې ناسم معلومات لیکي یا تاسو ته وایي چې دا ډول کار وکړئ
- تاسو ته وایي چې د ناسمو معلوماتو ویل به ستاسو سره مرسته وکړي تر څو د کډوالۍ په قضیه کې بریالي شئ
- تاسو ته وایي چې دوی ځانګړي ارتباطات (اړیکې) او نفوذ لري چې ستاسو سره به د کډوالۍ په قضیه کې مرسته وکړي
- وایئ کله چې تاسو پیسې ور کړئ دوی نه شي کولای تاسو ته رسید در کړي او یا تاسو ته داسې څه درکړي چې نوم یې پرې لیکل شوی وي
- ستاسې د پیژندنې اسناد واخلئ او بیرته یې نه درکوي
- د کډوالۍ د هغو فورمونو په لاسلیک کولو کې پاتې راځي یا د لاسلیک کولو څخه یې انکار کوي چې دوی یې تاسو ته ډکوي او یا ژباړي
- تاسو ته د ټولو هغو اسنادو کاپي ګانې (نقلونه) درکولو کې پاتې راځي یا له در کولو څخه یې انکار کوي چې دوی یې دولت ته سپاري.

که چیرې څوک له دغو کارونو څخه کوم یو ترسره کړي، له دوی څخه خپل اسناد او د هر هغه شي کاپي (نقل) وغواړئ چې دوی ستاسې د کډوالۍ د قضیې په تړاو دولت ته سپارلي وي. بیا له دوی سره په سمدستي ډول کار کول ودروئ. دا چې باید له دې وروسته څه وکړئ پدې اړه د مشورې لپاره د ټولنې د یوې باوري ادارې سره خبرې وکړئ.